مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۲/۲۷

# خه به کوو؟

يارانو لوبه اوړي د آسمان خه به کوو؟
پر ورکه لار ملګري سول روان خه به کوو؟
مُلا په ولاحول زموږ له کوره وو شړلی
چي پير مو سو ملګری د شيطان خه به کوو؟
خُمار مي د عمرونو ميکدې ته وو راوړی
ساقي وه را بللي رقيبان خه به کوو؟
کعبه د ابراهيم راځخه ورکه سوه خاونده
د بُت له ستوني اورمه آذان خه به کوو؟
د ورځو په رڼا کي خو نصيب نه وو منلي
د شپو په زړه کي وينمه توپان خه به کوو؟
غليم خو به ويل چي دا وری نه شړی کيږي
موږ هم يو په چاره پوري حيران خه به کوو؟
چي لاپي مو د تورو او جرګو ورته کولې
آسمان راځخه اخلي امتحان خه به کوو؟
چي «غلي انقلاب» ته يې زلمي هوښيارولــه
ريښتيا د «بېنوا» يې کړ داستان خه به کوو؟
راووزه جهاني په خلوتونو پوره نه سوه
دعا لکه چي نه مني يزدان خه به کوو؟

د ۲۰۲۰ کال د فبروري شپږويشتمه ويرجينيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ